# اسلام: دا دی چې ګواهي ورکړې پردې چې له الله پرته بل معبود نشته او پر دې چې محمد - صلی الله علیه و سلم - د الله رسول دی، لمونځ قائم کړې، زکات ورکړې، د رمضان روژه ونیسې او د بیت الله حج وکړې -که د رسېدو لاره دې ورته وموندله

له عمر بن الخطاب رضي الله عنه څخه روایت دی وایي: مونږ یوه ورځ له رسول الله صلی الله علیه وسلم سره ناست وو، چې ناڅاپه یو سړی را ښکاره شو، سپیني جامې یې پر تن وې، تک تور ویښتان یې و، د سفر کومه نخښه پرې نه ښکاریده او له مونږ څخه هېچا هم نه پېژانده، تر دې چې رسول الله - صلی الله علیه وسلم - ته کېناست، نو خپل زنګنونه یې د هغه زنګنونو ته ورتکیه کړل او لاسونه یې پر ورنونو ورکېښودل، او ورته یې وویل: اې محمده! ماته د اسلام په اړه خبر راکړه، رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: «اسلام: دا دی چې ګواهي ورکړې پردې چې له الله پرته بل معبود نشته او پر دې چې محمد - صلی الله علیه و سلم - د الله رسول دی، لمونځ قائم کړې، زکات ورکړې، د رمضان روژه ونیسې او د بیت الله حج وکړې -که د رسېدو لاره دې ورته وموندله»-. وېې ویل: "ته رښتیا وایې". نو مونږ حیران شو چې هم پوښتنه کوي او هم یې تصدیقوي، (بیا یې) وویل: ما ته د ایمان په اړه خبر راکړه" هغه وویل: " دا چې په الله، د هغه په ملایکو، د هغه په کتابونو، د هغه په رسولانو او د آخرت په ورځ ایمان راوړې، او د خیر او شر په تقدیر باور ولرې؛ " هغه وویل: "رښتیا دې وویل". وېې فرماییل: "د احسان په اړه خبر راکړه ." هغه وویل: "دا چې د الله تعالی عبادت پداسې توګه وکړې لکه چې ته هغه وینې، خو که چېرته یې ته نه وینې نو هغه خو تا ویني". وېې وییل: ماته د قیامت په اړه خبر راکړه، وېې فرمایل: پوښتل شوی له پوښتونکي څخه ډېر پوه ندی، هغه وویل: له نخښانو څخه یې خبر راکړه". وېې وییل: "دا چې وینځه خپل بادار وزیږوي، او دا چې ته وګورې چې پښې ابله (لوڅ پښې)، بربنډ ، محتاج ، شپانه یو له بل څخه په ابادیو کې وړاندیوالی کوي". بیا هغه روان شو، نو ما یو څه وخت انتظار وکړ، بیا یې وویل: "اې عمره! آیا ته پوهیږې چې پوښتونکی څوک و؟، ما وویل: الله او د هغه رسول ښه پوهیږي، وېې فرماییل: دا جبریل و، هغه تاسو ته راغلی و تر څو مو دین درووښایي».

[صحیح] [مسلم روایت کړی دی]

عمر بن الخطاب رضي الله عنه فرمایي چې جبرائیل علیه السلام صحابه کرامو ته د یو نا پېژندل شوي سړي په شکل ورغی، هغه پداسې بڼه و چې جامې یې تکې سپینې وې او ویښتان یې تک تور و، د سفر کومې نخښې پرې نه ښکاریدې لکه ستړتیا، دوړې، ګډوډ ویښتان، د کالیو خیرنوالی، او په حاضرو کسانو کې هېچا نه پېژانده، حال دا چې دوی ټول د رسول الله صلی الله علیه وسلم سره ناست وو، نو هغه د رسول الله صلی الله علیه وسلم په حضور کې د یوه زده کوونکي په بڼه کېناست او د اسلام په اړه یې ترې پوښتنه وکړه، نو هغه د اسلام پدې ارکانو سره ځواب ورکړ چې په دوو شهادتینو اقرار، پنځه وخته لمونځونو ادا کولو، مستحقو کسانو ته زکات ورکولو، د رمضان میاشتې روژې نیولو او پر توانمند د حج ادا کولو ته شامل و. پوښتونکي وویل: رښتیا دې وویل، نو صحابه کرام د هغه له پوښتنې کولو څخه حیران شول چې د هغه ناپوهي یې ښودله او بیا یې بیرته - ځواب ـ تصدیقاوه. بیا یې ترې د ایمان په اړه پوښتنه وکړه، نو هغه د ایمان پدې ارکانو سره ځواب ورکړ چې د الله تعالی په وجود او د هغه پر صفاتو ایمان، هغه لره د هغه په افعالو کې په یووالي ایمان لکه: پیدا کول، هغه لره په عبادت سره یو ګڼل، او دا چې ملائکې الله جل جلاله له رڼا څخه پیدا کړي دي او هغو د - الله تعالی - عزتمند بندګان دي چې د الله پاک د حکم نافرماني نه

کوي، د هغه امر پر ځای کوي، او د هغه پر کتابونو ایمان چې د هغه لخوا پر رسولانو نازل شوي دي لکه: قرآن، تورات، انجیل او نور، او په هغو پیغمبرانو ایمان چې د هغه له طرفه یې دین خلکو ته رسوي، د هغوی له جملې څخه نوح، ابراهیم، موسی، عیسی او نور پیغمبران علیهم السلام دي چې وروستی یې محمد صلی الله علیه وسلم دی، او د آخرت په ورځ ایمان، چې له مرګ نه وروسته قبر او برزخي ژوند ته شامليږي، او دا چې انسان له مرګ نه وروسته ژوندی کیږي او حساب ورسره کیږي، او دا چې برخلیک به یې جنت او یا دوزخ وي، او پر دې ایمان چې الله تعالی د خپل مخکیني علم، حکمت او لیکنې پر بنیاد ټول شیان اندازه کړي دي، او دا چې دا هر څه د هغه د خوښې او تقدیر سره سم کیږي او دا چې دا هر څه یې د کومې موخې لپاره پیدا کړي دي. بیا یې ترې د احسان په اړه پوښتنه وکړه، نو هغه خبر ورکړ چې احسان دې ته وایي چې پداسې توګه د الله تعالی عبادت وکړي لکه چې اللهویني، خو که چېرته ورته دې مرتبې ته رسېدل ناشوني وي، نو بیا دې د الله تعالی داسې عبادت وکړي لکه چې الله یېویني، نو لومړ□ د لېدو مرتبه ده چې تر ټولو لوړه ده او دویمه د څار مرتبه. بیا یې ترې پوښتنه وکړه چې قیامت کله دی؟ نو رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته بیان کړه چې د قیامت په اړه پوهې باندې الله تعالی ځان ځانګړی کړی دی، نو د هغه له مخلوقاتو څخه پرې هېڅوک نه پوهیږي، نه پوښتل شوی او نه پوښتونکی. بیا یې ترې د قیامت د نخښانو په اړه پوښتنه وکړه؟ نو ورته یې واضحه کړه چې له نخښانو څخه یې د وینځو زیاتوالی او د هغوی د اولادونو زیږون دی، او یا د اولادونو لخوا د مورګانو نافرماني، چې لکه د وینځو په څېر رویه به ورسره کوي او دا چې د مېږو په شپنو او غریبانو باندې به په وروست□ زمانه کې د مال دومره پراخي راشي چې د ودانیو په سینګار او جوړولو کې به یو پر بل وياړي. بیا رسول الله صلی الله علیه وسلم خبر ورکړ چې سوال کوونکی جبرائیل علیه السلام و او د دې لپاره راغلی و چې صحابه کرامو ته حقیقي دین ورزده کړي.

https://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/4563